# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| خاطره هائی از مقاومت | Resistance Memories |
|---|---|

ژباړه: فرهاد ویاړ
۰۶ جولای ۲۰۱۳

# د یانګ تسه له سیند څخه تیریدل

**(۵)**



لي هغه ته وایي: «چانګ، ګرانه ملګری، قوماندان مي زه دلته رالیږلی یم چي تاسو سره کار وکړم، موضوع د دښمن د تاسیساتو په اړه ده چي ....» په همدې موکه کي د موزو آواز د هغوی پام ځان ته راړوي.



چانګ وایي:«پام دې وي! دوی د ګومیندان سرتیري دي...» لي فوراً غبرګون ښيي، یوه ښشپړه زرګري دعوا په لاره اچوي، هغه چیغه وهي:«ښاغلی! ته نه یوازې نه مني چي پورونه دې غوڅ کړې، ما ته کنځلی هم کوئ. خو دنیا داسي نه پاتي کیږي.»



بیچاره ارباب لا په غوسه کیږي او وايي:«ته بی ځایه ما تر فشار لاندې نیسئ. یو څه هم زما ستونزو ته فکر وکړه! غواړئ چې زما دار و ندار ټول ویسئ؟» تاپائو په موکې رارسیږي څو د منځګړي نقش ولوبوي.



کله چې هئو، هتې ته دننه کیږي له دعوا پرته بل څه نه ویني. لي، بی له دی چې هغه ته په قضیه د پوهیدلو وخت ورکړي، رامخکې کیږي او وايي:«افسره، په سم وخت راورسیدئ، زه درپسې درتللم.» او بیا په داسې حال کې چې سګریټ ورته نیسي خپلو خبرو ته ادامه ورکوي او خپل ځان معرفی کوي:«زه «لی چانګ ـ منیګ» د «تاکانګ» شرکت مدیر یم.» او خپل ویزت کارت ورته ښکاره کوي.



لي د خپلي دعوا په اړه افسر ته شکايت کوي. مزاحم افسر چې د دې اختلاف وړ مسئلو څخه ګنګس شوی دی، فکر کوي چې ښه به وي، ځان وباسي، د همدې لپاره هغوی ته مخ اړوي او وايي: «د يانګ تسه د ساتنې لپاره ماموريت راسپارل شوی دی، وخت نلرم چې ستاسو په کارونو کې ځان بوخت کړم.» بيا راستنيږي او خپلو سرتيرو سره له دروازې وځي. هغه هيروي چې تذکرې وګوري.



کله چې د دښمن مامورين لاړل، دری واړو ملګرو په آرامه خيال سره وخندل، چانګ پلورنځی تاپائو ته سپاري او له لي سره لوړ پوړ ته ځي.



دوی په لوړ پوړ کې د نقشي په پلی کولو کار پیل وکړ. کله چې د کار طرحه چمتو شوه، ورور او خور خپل کوچني کور ته چې د سيند تر څنډې و، ستنيږي. هغوی ټوله شپه د خپلو ملګرو په مرسته ستري لامبوزني دري پاياني جوړوي.



توره شپه ده، آسمان له وريځو ډک دی او سخته سيلی ده؛ څلور ملګري په دوو ډلو ويشل کيږي. چانګ او لي له اغزن سيم تيريږي او د دښمن په مورچلونو کې نفوذ کوي.